شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د حدیث شریف ژباړه
رسول الله ﷺ فرمايي: د قرانکریم تلاوت کوئ؛ ځکه قرانکریم به د قیامت په ورځ د خپلو ملګرو له پاره شفاعت کوي.
( صحیح مسلم )
ترجمه حدیث شریف
رسول الله ﷺ می فرماید: قرآن کریم را تلاوت کنید، زیرا قرآن کریم در روز قیامت برای دوستان خود شفاعت می‌کند.
(صحیح مسلم)
( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

يکشنبه| د ربيع الثاني ١٧-١٤٤٦ال س/ د تلي ٢٩-١٤٠٣ال ل/ د اکتوبر ٢٠-٢٠٢٤ز/خلورم کال / ١١٩ گڼه/ ٤ مخيزه


## سرمقاله

# اقتصاد دیجیتلی

اقتصاد دیجیتلی به اقتصاد متکی بر تکنالوژیها و محاسبات دیجیتال اشاره مینماید. این نوع اقتصاد از جمله پروسه های ارزشمندی معلوماتی در دنیای مدرن است که با کمک تکنالوژی در سالهای اخیر پیشرفتهای قابل ملاحظه داشته و از مزایای نهایت ارزشمند برخودار گردیده است. اقتصاد دیجیتال یک زمینه در حال رشد است که در آن فعالیت‌ها، مبادلات و تعاملات اقتصادی از طریق تکنالوژی دیجیتال انجام می‌شود. این حوزه اقتصادی شامل استفاده از تکنالوژی اطلاعاتی و ارتباطات برای ایجاد ارزش، تولید، توزیع و مصرف کالا و خدمات است. در اقتصاد دیجیتال، تکنالوژی اطلاعات و ارتباطات (IT) ابزاری اساسی برای بهبود عملکرد و کارایی فعالیت‌های اقتصادی میباشد. اقتصاد دیجیتالی فواید چشمگیری را در اقتصاد جهانی فراهم می‌کند. فواید این نوع اقتصاد به شکل‌های مختلفی قابل دید است. استفاده از فناوری‌های دیجیتال منجر به افزایش کارایی در فرایندها، کاهش زمان و هزینه‌ها، امکان دسترسی آسانتر به بازارها، مشتریان، و منابع از طریق ابزارهای دیجیتال، امکان فعالیت در بازارهای جهانی، افزایش فروش و انجام مبادلات تجاری به صورت آنلاین بدون محدودیت مکانی است. اقتصاد دیجیتال نه‌تنها برای کسب‌وکارها بلکه برای دولت‌ها نیز فواید بسیاری دارد چون استفاده از فناوری‌های دیجیتال برای ارتقای خدمات دولتی و فرایندهای مختلف، می‌تواند منجر به کاهش هزینه‌ها و بهینه‌سازی عملکرد دولتی، افزایش شفافیت در عملکرد دولت، تسریع امور در روند اجرای کار، همچنان این نوع اقتصاد می‌تواند به بهبود بخش‌های حساس مانند صحت، آموزش، امنیت و محیط زیست نیز کمک کند. به طور کلی، اقتصاد دیجیتال برای دولت‌ها فرصت‌های بیشماری برای بهبود خدمات عمومی، کاهش هزینه‌ها، افزایش شفافیت و بهبود ارتباط با شهروندان ایجاد می‌کند. اینکه در حال حاضر جهان به سرعت به سمت دیجیتالی شدن در حال حرکت است بناءً هیچ بعدی از زندگی بشر نمی تواند بدون تحت تاثیر قرار نگرفتن دنیای دیجیتلی قرار گیرد، اقتصاد نیز از این امر مستثنا نیست. در دنیا مدرن ما با اقتصاد دیجیتال رو به رو هستیم که تکنالوژی به شکل حیرت أوری اقتصاد را تحت تاثیر خویش قرار داده است. بندین اساس میتوان گفت در حال حاضر هیچ کشوری نیست که بدون تکنالوژی اقتصاد خود را اداره کند اینکه حکومتداری الکترونیکی توزیع خدمات را با استفاده از تکنالوژی اجرا مینماید تا شهروندان از آن مستفید گردد و باعث ثبات در جامعه قرار گیرد. روی این ملحوظ وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان همواره در تلاش است تا در تمامی امور دولتی مرتبط به این وزارت از تکنالوژی نوین استفاده نماید و اقتصاد خویش را به شکل دیجیتال عیار نموده است. وزارت مالیه همواره تلاش ورزیده است تمامی سیستم های مالی و خدماتی خویش با استفاده از تکنالوژی نوین آراسته نموده که نمونه های بارز آن سیستم افمس، اسیکودا، سکتاس و سیستم های مشابه که بیشترین کاربرد را در جمع آوری عواید تشخیص عواید و مصارف عواید از آن استفاده صورت میگیرد . این سیستم ها توانسته در جمع آوری و مصرف عواید نهایت مثمر واقع گردد و نتایج فوق العاده را در ایجاد شفافیت در وزارت مالیه به ارمغان بیاورد.

**با احترام**

**اداره**

## د بار وړونکو ټرانزيټي موټرونو له پاره د ځيرکو قلفونو (GPS Locker) د نصبولو هوکړه ليک لاسليک سو




د باروړونکو ټرانزيټي موټرونو له پاره د ځيرکو قلفونو (GPS Locker) د نصبولو هوکړه ليک د ماليې وزارت، ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د افغان پوسټ امارتي شرکت ترمنځ د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کي د يو لړ مراسمو په ترڅ کي لاسليک سو.
په دې مراسمو کي د ماليې وزارت اداري معين مولوي دوست محمد مخلص، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق الله عابد، د امارتي شرکتونو لوی رئيس مولوي احمد جان بلال، د چارو اداري لوی رئيس شيخ الحديث انورالحق انور، د احصائيې او معلوماتو ملي اداري رئيس ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس)، د گمرکونو لوی رئيس او د گمرکونو او عوايدو معينيت کفيل مفتي عبدالمتين سعيد، د افغان پوسټ امارتي شرکت لوی رئيس مولوي رحمت الله مکي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تدارکاتو رئيس مفتي حبيب الرحمن طلحه او د رسنيو استازو گډون کړی وو.
د ماليې وزارت اداري معين په خپلو خبرو کي وويل، چي د ماليې وزارت د بريښنايي حکومتولۍ د اصل پلي کولو موخه په بېلابېلو برخو کي له ټکنالوژۍ څخه کار اخيستل دي، چي ښکاره بېلگه ئې د بار وړونکو ټرانزيټي موټرونو له پاره د ځيرکو قلفونو د نصبولو هوکړه ليک او عملي کار پيلول گڼلای سو.
هغه زياته کړه، چي د دغي دستگاه په نصبولو سره به د ټرانزيټ په برخه کي غوره پرمختگ او گڼي اسانتياوي رامنځته سي، په بهرني ټرانزيټ کي د باور کچه لوړېږي، د سوداگريزو توکو خونديتوب تضمينېږي، په اړوندو چارو کي بشپړ شفافيت او سرعت رامنځته او کاري وخت په منظم ډول کنټرولېږي.
د امارتي شرکتونو لوی رئيس وويل، چي د دغه سيستم په پيل او پلي کولو سره به سوداگرو ته غوره اسانتياوي برابري سي. د دغو قلفونو نصبول له سوداگرو سره د توکو په خونديتوب، د توکو له دقيق موقعيت څخه د خبرېدو، د توکو له غلا څخه د مخنيوي او د توکو د منحرف کېدو په صورت کي د نقليه وسايطو د مسير معلومولو په برخو کي مرسته کوي.
د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تدارکاتو رئيس وويل، چي په بار وړونکو ټرانزيټي موټرونو کي د ځيرکو قلفونو (GPS Locker) په نصبولو سره د توکو د خونديتوب کچه لوړه او د سر او مال د ساتني په موخه د دوی د نقليه وسايطو سرعت هم کنټرول سي.
د گمرکونو لوی رئيس او د گمرکونو او عوايدو معينيت کفيل وويل، د (جي پي ايس لاکر) په نصبولو سره د کنټرول سيستم اوتوماتيک کېږي. د دغي پروسې په پيل او پلي کولو سره به مشرتابه ته وړانديز وسي، چي د تضمين په برخه کي د سوداگرو له پاره ډېري اسانتياوي رامنځته کړي.

## د روان مالي کال په دوهمه ربعه کي د هيواد گمرکي چارو (١٨) سلنه پرمختگ کړی دئ

د روان (١۴٠٣) هـ.ل کال په دوهمه ربعه کي په گمرکونو کي د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته، د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ پر ليکه او حضوري بڼه جوړه سوه.
په دغه ناسته کي د روان (١۴٠٣) هـ.ل کال په دوهمه ربعه کي په گمرکونو کي د ترسره سويو فعاليتونو ټوليز راپور وړاندي سو؛ په ياده موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په گمرکونو کي د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چي له مخي ئې د تېر کال د همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چاري (١٨) سلنه مثبتي وښودل سوې.
د وړاندي سوي راپور په تړاو هر اړخيز تخنيکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولايتي گمرکونو د مسئولينو ستونزي او وړانديزونه واورېدل سول، چي د




گمرکونو د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړيني سپارښتني هم شريکي سوې.
په دغه ناسته کي همداراز، د روان کال د لومړيو شپږو مياشتو د سوداگرۍ هر اړخيز تحليل وسو، چي له مخې ئې د تېر کال د همدې مودې په پرتله، هيواد ته د سوداگريزو توکو واردات (٣٢) سلنه زيات سوي دي.




**د گمرکونو لوی رياست په اداري ناسته کي پر يو شمېر مهمو موضوعاتو بحث وسو**

م ٢




**د ماليې وزارت د مرکزي رياستونو کارکوونکو له پاره د مديريت د اساساتو روزنيز پروگرام جوړ سو**

م ٢



**د آقينې گمرک د احاطې دېوال او ټاورونو د جوړولو پروژې له چارو څخه څارنه وسوه**

م ٢



**د ولايتي گمرکونو له ترخيص وروسته د پلټني د برخي کارکوونکو ته جوړ سوی روزنيز ورکشاپ پای ته ورسيد**

م ٢



**رعايت اصل ارزش پول در فرايند های تدارکاتی**

م ٣




**له چين سره د افغانستان د ځمکنۍ اړيکي حقيقت**

م ٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه



## د گمرکونو لوی ریاست په اداري ناسته کې پر يو شمېر مهمو موضوعاتو بحث وسو

د گمرکونو لوی ریاست د روان کال (۱۴) مه اداري ناسته د گمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کې وسوه. په دې ناسته کې د گمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو گډون کړی وو. په دې ناسته کې د گمرکونو لوی ریاست د راتلونکي کال په تشکیل، د معافي توکو په طی مراحلو د اسانتیاوو پر رامنځته کېدو، د هیواد په گمرکونو کې



د وارداتي، صادراتي او ټرانزیټي توکو په طی مراحلو کې پر شته ستونزو او حل لارو، د گمرکونو لوی ریاست د ورځنیو چارو پر لا ښه والي، په گمرکونو کې د یو شمېر سوداگریزو شرکتونو او صنعتکارانو د ستونزو پر حلولو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پرېکړې وسوې. همدارانگه په دې ناسته کې د هرات په ولایت کې د یو شمېر صنعتي فابریکو څخه د لیدني په موخه د تللي پلاوي راپور هم واورېدل سو.

## د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ پلاوي د روان کال پنځمه ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د روان کال د رهبرۍ پلاوي پنځمه ناسته د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ ترسره سوه. دغه ناسته، چې د عوایدو او گمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې جوړه سوې وه، د عوایدو لوی ریاست مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو پکښې گډون درلود. د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني، وویل، چې د تېر کال په پرتله سږني عواید ښه دي نو ټینگار پر دې وسو، چې د عوایدو راټولو په برخه کې لا منظمي هڅې ترسره سي او زیاته ئې کړه، چې باید په خپلو کارونو کې په پوره اخلاص، ایمانداري او شفافیت سره شپه او ورځ نه ستړي کېدونکي هڅې وکړو؛ ترڅو د دې مظلوم ملت خدمت په ښه ډول ترسره کړو. په دغه ناسته کې د عوایدو لوی ریاست پر ځینو مهمو موضوعاتو بحث وسو، گډونوالو خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل په پای کې غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.



## د مالیې وزارت د مرکزي ریاستونو کارکوونکو له پاره د مدیریت د اساساتو روزنیز پروگرام جوړ سو




د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د دغه وزارت د مرکزي ریاستونو کارکوونکو ته د مدیریت د اساساتو په تړاو روزنیز پروگرام جوړ کړ. په دغه ناسته کې، چې په همدې موخه خیبر د غونډو په سالون کې جوړه سوې وه، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د دعوت او ارشاد ریاست مدرس شیخ الحدیث مولوي محمد مبین امیني او د دغه وزارت یو شمېر نورو مسئولینو برخه اخیستې وه. د بشري سرچینو رئیس د دغه پروگرام په پرانیستې وینا کې وویل، چې دغه روزنیز پروگرام ستاسي د وړتیا لوړولو په موخه جوړ سوی دئ؛ ترڅو د بست له تقاضا او لایحو سره سم خپلي دندې پرمخ یوسئ؛ نو له دغه پروگرام څخه پوره گټه پورته او هغه ستونزي او وېري، چې د دندې پر مهال ورسره مخ کېږئ، له دې لاري حل کړئ.

د دعوت او ارشاد ریاست مدرس وویل، چې دا ډول پروگرامونه په ریښتیا هم د اسلامي نظام له پاره د ارزښت وړ دي، ځکه، چې په فکر جوړونه او حکومت جوړونه کې مهم رول لوبوي، د حکومت او د اسلامي ثقافت د حکومتولۍ، پیاوړي بنسټ او د دوست او دوښمن پېژندلو برخه کې اړین دئ، له دغه پروگرام څخه په گټه اخیستني سره کوښښ وکړئ، چې اسلامي نظام لا پیاوړی کړئ. د دغه روزنیز پروگرام پرانیستغونډه د خیر په دعایې پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده، چې دغه پروگرام به (۱۰) ورځې دوام وکړي او په ترڅ کې به ئې د مجربو ښوونکو او متخصصینو له لوري د مدیریت اساسات (پلان جوړونه، سازماندهي، گومارني، فرماندهي، کنټرول) او نور اړوند مسایل گډونوالو ته تشریح سي.

## د گمرکونو لوی ریاست د بیې ایښودني ریاست له پاره نوی رئیس معرفي سو



د مالیې وزارت مقام په وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام په منظورۍ ښاغلی خیرالله کاکړ، چې د گمرکونو لوی ریاست د بیې ایښودني د رئیس په توگه ټاکل سوی وو، د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید له لوري د دغه ریاست کارکوونکو ته ور وپېژندل سو. په دې پېژند غونډه کې، چې د گمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر کارکوونکو گډون کړی وو. د گمرکونو لوی رئیس د دغه ریاست د مخکني رئیس د فعالیتونو یادونه وکړه او ترسره سوي چارې ئې اغېزمني یادي کړې او همدارنگه ئې نوي ټاکل سوي رئیس ته په راتلونکو چارو کې د بریالیتوب غوښتنه وکړه. د یادونې وړ ده، چې خیرالله کاکړ په گمرکي چارو کې پوره کاري تجربه لري او له دې وړاندې ئې د گمرکونو لوی ریاست د قانون پلي کولو او اطاعت پذیرۍ د رئیس په توگه دنده ترسره کوله.

## عوایدو لوی ریاست ته د بررسۍ نوی رئیس او عملیاتي مرستیال معرفي سو



د مالیې وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم پر اساس ښاغلی عزیزالحق حقپال د عوایدو لوی ریاست د بررسۍ د رئیس په توگه او ښاغلی خان محمد ذاکر د عوایدو لوی ریاست د عملیاتي مرستیال په توگه معرفي سول. په دې تړاو جوړو سوو جلا جلا ناستو کې، د گمرکونو لوی رئیس او د گمرکونو او عوایدو معینیت کفیل مفتي عبدالمتین سعید، د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني، تخنیکي مرستیال عبد الولي نوري، د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس نداء محمد صدیقي او یو شمېر نورو رئیسانو، مسئولینو او آمرینو گډون کړی وو. د یادونې وړ ده، چې دوی دواړو د اسلامي امارت له حاکمیت را وروسته په لوړو بستونو کار کړی او په مربوطه برخو کې له ښې کاري تجربې څخه برخمن دي.

## د ولایتي گمرکونو له ترخیص وروسته د پلټني د برخې کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د روزنیزو پروگرامونو په لړۍ کې د ولایتي گمرکونو له ترخیص وروسته د پلټني برخې کارکوونکو ته جوړ سوی یو میاشتنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد. په دې ورکشاپ کې، چې د ولایتي گمرکونو (۲۳) تنو کارکوونکو گډون کړی وو، په اړوندو برخو کې عملي او نظري روزني ورکړل سوې. د ورکشاپ په پای کې د گمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ او اطاعت پذیرۍ د رئیس او نورو مسئولینو له لوري فارغ سویو کارکوونکو ته لازمي سپارښتني وسوې او تصدیق پاڼې هم ورکړل سوې.




د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له لوري په مرکز او ولایتونو کې د کارکوونکو د وړتیا لوړولو او د چارو د لا ښه والي له پاره ورته روزنیز ورکشاپونه جوړ سوي او په راتلونکي کې به هم دوام ولري.

## د آقینې گمرک د احاطې دېوال او ټاورونو د جوړولو پروژې له چارو څخه څارنه وسوه

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري په شاوخوا (۲۸۳) جریبه ځمکه باندې د آقینې گمرک د احاطې دېوال او ټاورونو جوړولو پروژې چارې دا مهال په چټکۍ سره رواني دي. د یادې پروژې له رغنیزو چارو څخه د یاد گمرک رئیس او له پلازمېنې کابل څخه تللي تخنیکي ټیم له نږدې کتنه او څارنه وکړه؛ تر څو دغه پروژه له نقشې او پلان سره سم پلې سي. پر یادې پروژې شاوخوا (۴٦) میلیونه افغانۍ لگښت راځي، چې د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او رغنیزي چاري ئې هم د یوه افغاني شرکت له لوري ترسره کېږي.



د یادې پروژې چاري د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال د زمري په میاشت کې پیل سوې او د راتلونکي کال په لومړۍ ربعه کې به پای ته ورسېږي، چې په جوړېدو سره به ئې د گمرک کارکوونکو او سوداگرو ته د خوندیتوب په برخه کې زیاتي اسانتیاوي برابري سي.

SHTAMANI
اوونیزه

# رعایت اصل ارزش پول در فرایند های تداركاتی پروژه ها

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

**مقدمه**

در محیط رقابتی و با نظر داشت محدودیت منابع، سازمان‌ها تحت فشار مداوم جهت بهینه‌سازی هزینه‌ها و حداکثر استفاده از فعالیت‌های تدارکاتی خود هستند. یکی از مفاهیم مهم در دستیابی به این بهینه‌سازی، ارزش برای پول (Value for Money) است. ارزش پول تنها در مورد کاهش هزینه‌ها نیست؛ بلکه در مورد دستیابی به بهترین نتیجه ممکن از هزینه‌های صرف شده است. این نوشته به جنبه‌های چندگانه ارزش پول در تدارکات پرداخته و اجزای کلیدی و استراتیژی‌های دستیابی به آن را بررسی می‌کند. ارزش برای پول در تدارکات به معنی دستیابی به بهترین ترکیب ممکن از هزینه، کیفیت و کارایی برای برآورده کردن نیازهای سازمان است. این رویکرد جامع فراتر از قیمت اولیه خرید رفته و هزینه‌ها و مزایای کل چرخه عمر تصمیمات تدارکاتی را در نظر می‌گیرد.

**عوامل ارزش پول:**

• کیفیت: یعنی محصولات یا خدمات خریداری شده باید با استانداردها و مشخصات مورد نیاز مطابقت داشته باشند. کیفیت بر قابل استفاده بودن، دوام و اثربخشی کلی تدارکات تأثیر می‌گذارد.

• هزینه: با ارزیابی کل هزینه‌های چرخه عمر، سازمان‌ها می‌توانند تصمیمات آگاهانه‌تری بگیرند که از نظر مالی پایدار باشند.

• کارایی: کارایی در فرآیندهای تدارکات شامل به حداقل رساندن زمان، منابع و تلاش‌های اداری است.

• پایداری: تدارکات پایدار تأثیرات زیست محیطی و اجتماعی تصمیمات خرید را در نظر می‌گیرد.

• خطر: شناسایی، ارزیابی و مدیریت خطر های مرتبط با تدارکات ضروری است. مانند: اختلالات زنجیره تأمین، شکست‌های کیفیت و مسائل انطباق. مدیریت خطر موثر، اطمینان و مقاومت فعالیت‌های تدارکاتی را تضمین می‌کند.

استراتژی‌های دستیابی به ارزش برای پول

• ارزیابی جامع نیازها: ارزیابی‌های دقیق نیازها برای تعریف مشخصات تدارکاتی روشن و دقیق.



• تحلیل بازار: تحلیل بازار دقیق به درک گزینه‌های موجود، روند قیمت‌ها و توانایی‌های تأمین‌کنندگان کمك می‌کند.

• داوطلبی رقابتی: استفاده از فرآیندهای داوطلبی رقابتی، برای جذب تأمین‌کنندگان متعدد جهت کاهش هزینه‌ها و ازدیاد کیفیت.

• هزینه‌سنجی چرخه عمر: هزینه‌سنجی چرخه عمر در تصمیمات تدارکاتی، امکان ارزیابی جامع هزینه‌های کل مرتبط با خرید را فراهم می‌کند.

• مدیریت ارتباط با تأمین‌کننده: ایجاد و حفظ روابط قوی با تأمین‌کنندگان می‌تواند به نتایج مذاکره بهتر، بهبود کیفیت و افزایش همکاری منجر شود.

**اندازه‌گیری:**

۱. آیا نیاز به قرارداد فرعی وجود دارد؟
۲. آیا هزینه های عملیاتی و نگهداری مرتبط با تدارکات وجود دارد؟
۳. آیا معیارها از نظر پولی قابل سنجش هستند؟
٤. آیا مسئولیت ها و روش هایی برای ردیابی عناصر کلیدی قرارداد: تحویل، کیفیت و هزینه تعیین شده است؟
۵. آیا مشارکت عامه و خصوصی است؟

ترتیب اسناد داوطلبی با رعایت اصل "ارزش در برابر پول" نیازمند تدوین دقیق و شفاف اسنادی است که تمام جنبه های اقتصادی، کارایی، اثربخشی، کیفیت و پایداری را در نظر بگیرند. در زیر به چگونگی ادغام این اصل در هر بخش از اسناد داوطلبی (شرطنامه، درخواست ابراز علاقمندی و یا مطالبه پیشنهادات(پرداخته می‌شود:

۱. مشخصات فنی (تعریف دقیق نیازها و قابلیت مقایسه با پیشنهادات تأمین‌کنندگان).
۲. معیارهای ارزیابی (معیارهای چندگانه و وزن‌دهی معیارها).
۳. شرایط قرارداد (تعهدات کیفیت و پیش‌بینی خطر).
٤. طرزالعمل‌های پیشنهاد دهی (روش‌های ارائه پیشنهاد و شفافیت).
۵. فورم‌های پیشنهاد (ساختار معیاری فورم و جزئیات مالی).
٦. شرایط پرداخت (مراحل پرداخت و تشویق به عملکرد خوب).
۷. معیارهای پایداری (ملاحظات زیست‌محیطی و مسئولیت اجتماعی).
۸. الزامات قانونی و انطباق (رعایت قوانین و مقررات و شفافیت در انطباق).

معیارها و روش‌شناسی ارزیابی باید قبل از رجوع به بازار تعیین و تأیید شوند. نیازهای خاص ادارات تدارکاتی و روش ارزیابی به سطح خطر و رویکرد مسئولان تدارکاتی به ارزیابی ارزش پول بستگی دارد. طرزالعمل برنامه ریزی ارزیابی جزئیات بیشتری را در مورد چگونگی انتخاب روش ارزیابی مناسب ارائه می دهد و نمونه هایی از سه راه کلیدی را که هیئت می تواند ارزیابی/خریداری میتواند ارزش پول را از طریق آن ارزیابی کند، ارائه می دهد. مدیریت خطر موثر در تدارکات از هیئت خریداری/ارزیابی در دریافت به موقع کالاها یا خدمات مورد نیاز با بهترین کیفیت ممکن حمایت می کند. بنابراین تداوم کسب و کار، عملکرد مالی قوی و ارزش را برای همه ذینفعان (ادارات نیازمند یا مصرف کننده، فراهم کنندگان و هیئت تدارکات) تضمین می کند.

**نتیجه گیری:**

ارزش پول تنها بخاطر کاهش هزینه‌ها نیست؛ بلکه ارزش برای پول در تدارکات به معنی دستیابی به بهترین ترکیب ممکن از هزینه، کیفیت و کارایی برای برآورده کردن نیازهای سازمان است. این رویکرد جامع فراتر از قیمت اولیه خرید رفته و هزینه‌ها و مزایای کل چرخه عمر تصمیمات تدارکاتی را در نظر می‌گیرد. دستیابی به ارزش برای پول در تدارکات فرآیندی پیچیده و پویا است که نیاز به توجه متعادل به کیفیت، هزینه، کارایی، پایداری و خطر دارد. با اتخاذ یك رویکرد جامع و اجرای شیوه‌های استراتیژیك تدارکاتی، سازمان‌ها می‌توانند هزینه‌های خود را بهینه سازی کرده و بیشترین بهره مندی را از فعالیت‌های تدارکاتی خود ببرند. ارزش پول تنها یك هدف نیست بلکه یك سفر مداوم به سوی نتایج بهتر تدارکاتی است. فرآیندهای مدیریت خطر خوب، که در طول چرخه عمر تدارکات اعمال می‌شوند، برای تحویل موفقیت‌آمیز نتایج ارزش پول ضروری هستند. کارمندان تدراکاتی ملزم به انجام ارزیابی خطر در مرحله برنامه‌ریزی برای اطمینان از شناسایی خطر های مرتبط با خرید/تدارك کالا یا خدمات هستند. مدیریت خطر موثر تضمین می کند که نتایج غیرمنتظره یا نامطلوب در حین دستیابی به اهداف تدارکات به کمترین حد می رسد. علاوه بر این، می تواند فرصت هایی را برای ترویج راه حل های نوآورانه شناسایی کند. ترتیب اسناد داوطلبی با رعایت اصل ارزش در برابر پول تمام جنبه‌های کیفیت، کارایی، اثربخشی، اقتصادی بودن و پایداری را در بر می‌گیرد. با توجه به این اصول، می‌توان اطمینان حاصل کرد که فرآیند تدارکات به بهترین شکل ممکن انجام شده و منابع عمومی به گونه بهینه بکار گرفته میشوند. با اعمال اصول و روشهای ارزش پول میتوان بطور بهتر به عوامل ارزش پول دست یافت که هدف اصلی تدارکات را تشکیل میدهد. مانند: کیفیت، هزینه، کارایی، پایداری، کاهش احتمال خطر و غیره. همچنان میتوان از استراتیژی هایی برای دستیابی به ارزش پول بهتر استفاده کرد که عبارت اند از: ارزیابی جامع نیازها، تحلیل بازار، داوطلبی رقابتی، هزینه سنجی چرخه عمر، مدیریت ارتباط با فراهم کننده، اندازه‌گیری و نظارت بر عملکرد و غیره.


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی**

مستوفیت ولایت بلخ یک دربند حویلی به مساحت ۹۰۰ متر مربع دارای سه منزل تعمیر و الحاقیه جداگانه و فاقد آب آشامیدنی خویش را واقع کارته آریانا شهر مزار شریف را به اساس کرایه ابتدایی تعین شده ماهوار مبلغ (۷۵۰۰) افغانی به شکل آفر سربسته به کرایه میدهد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ (۲۳ میزان سال ۱٤۰۳ الی ٦ عقرب سال ۱٤۰۳) به مدیریت عمومی املاك مازاد دولتی مستوفیت ولایت بلخ تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
تاریخ مجلس داوطلبی ۷ عقرب سال ۱٤۰۳ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر برگزار میگردد.
آدرس مستوفیت ولایت بلخ جاده بیهقی.
شماره های تماس ۰۷۸۰٦٦٦۳۱۱- ۰۷۸۳۷۷۰۷۲۰
GPS - ۳٦,۷۱۰۵۹۰-٦۷,۱٤۵۱۲٦

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالی (٦) مې ناحیې اړوند د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست په حویلۍ کې د یو باب کانتین، چې (۱۹۰.۵) متره مربع مساحت په لرلو سره یو باب د ډوډۍ خوړلو سالون، یو باب پخلنځی، یو باب د خرخلاو خونه او یو باب د عکاسۍ او فوټوکاپۍ خوني درلودونکې ده او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰۰) افغانۍ ده، د (۳) کلونو لپاره د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندې کړي.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر):٦۹,۱۱۸۰٦۹٤۱-۳٤,٤۷۷٤۹۹۳۱
هغه شرکتونه او یا رسمي استازي چې د قانون په چوکاټ کې مالي توان ولري او هم د کابل ښار اړوند برخو کې یوه فعاله نمایندګي ولري کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱٤۰۳/ تلې /۲۳ مې نېټې څخه د ۱٤۰۳/ لړم/ ٦) مې نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
د آفرگشایۍ تاکلي نېټه: د (مه ۱٤۰۳ کال د لړم ۷) د سهار (۱۰:۰۰) بجې.
ځای: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست – د مرکزي تړونونو د ارزونې لوی مدیریت.
د اړیکو شمیري: (۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

**اعلان مزایده**

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه یك باب دوكان نمبر(۱٦۳) به مساحت(٦) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲۵۰۰ ) افغانی برای مدت(۱) سال به اعلان مزایده می سپارد.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ -۳٤,۵۱۷۱
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد متذکره را بالاتر از مبلغ فوق داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ( ۲۱/ میزان/ ۱٤۰۳ الی ۲۷/ میزان / ۱٤۰۳) به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.
شماره های تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،
تاریخ مجلس مزایده: ۲۸/ میزان / ۱٤۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې ( د مالیې وزارت د گمرکونو د ساتني قطعې د قوماندانۍ له پاره د ژمي د ۳ ډوله سونگ توکو د تدارك په پروژه ) کې چې تشخیصیه نمبر ئې (۹۰۹-G/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بنه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
ځای: د مالیې وزارت د تدارکاتو ریاست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ.
د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (لړم/ ۱٤۰۳/۱۲) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: دوه اتیا زره (۸۲۰۰۰) افغانۍ.
د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنیتي افرونه د منلو وړ نه دي.

**د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست خبرتیا**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست اړوند د تصفیې آمریت ټولو هغو پېرېدونکو ته، چې په مرکز او ولایتونو کې ئې له رهني او تعمیراتي، زراعتي او صنعتي منحل سویو بانکونو څخه چې له (۱۳٤۹) هـ.ل کال څخه تر(۱۳۷۰) هـ.ل کلونو پوري پورونه اخیستي دي خبر ورکول کېږي، چې د خپلو حسابونو د تصفیه کولو او د مالیې وزارت تر تضمین لاندي د خپلو ملکیتونو د خلاصولو له پاره د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ (۹) پوړ، د تصفیې آمریت اړوند د منحل سویو بانکونومدیریت ته مراجعه وکړي. پرته له دې که په دې تړاو هر ډول اجراآت ترسره سول بیا د شکایت کولو حق نه لري.
د زیاتو معلوماتو له پاره د لاندي شمېرو سره اړیکه ټینگه کړئ:
۰۷۰۰٦٦۷۸۳۰- ۰۷۰۰۲٤۳۱۷۳

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې



ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)




# 3 Key IEA-run Bodies Endorse 'Tri-party Contract' for Installing Transit Vehicles' GPS Locker




A tri-party agreement was signed between the Ministry of Finance, the Ministry of Transport and Civil Aviation, and the Afghan Post IEA-owned Corporation to install GPS Locker in transit vehicles. For this purpose, a meeting was convened at the Government Media and Information Center (GMIC), which was attended by the Deputy Minister for Administration Affairs of Finance, Maulawi Dost Muhammad Mukhlis; the General Director of AOP, Sheikh Ul-Hadith Noorul Haq Anwar; the Director of the National Statistics and Information Agency, Mullah Abdul Qahir Haji Idris; the General Director of IEA-owned Corporations, Maulawi Ahmed Jan Bilal; Hafiz Siddiqullah Abid, Deputy Minister for Finance and Administration Affairs of Ministry of Transport and Civil Aviation; Mufti Abdul Matin Saeed, General Director of Customs, officials of Afghan Post IEA-owned Corporation and media representatives. With the implementation of the GPS Locker installation project in transit vehicles, confidence will be hike in the field of foreign transit, the safety of commercial property and more transparency and speed in related matters will be created. Additionally, work time will be controlled regularly, as officials determined. Noticeably, the national program for the development of postal code and postal address was also inaugurated in this session.



# Customs Affairs Progress by 18% in Q2 of Current FY1403, YoY Evaluation Remarks

In the second quarter of current year 1403, the meeting of the technical assessment of accomplished affairs at the customs was held online and in-person under the chairmanship of the General Director of the customs of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed. In this session, a comprehensive report of the activities carried out at the customs in the second quarter of 1403 was presented. During this period, complete information was provided about the collection of revenues, the trade conducted at the customs, the customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial cargoes, in which the affairs of customs were observed 18% positive on the basis of YoY, compared to the same period of the last year. In regard to the presented report, all technical discussions were held and the obstacles and suggestions of the officials of the provincial customs were heard for the further development of the affairs as officials were assured for removing barriers. Likewise, there was a comprehensive analysis of the trade of H1 of current year. According to the analysis, the import of commercial goods to the Afghanistan has increased by 32 percent in the basis of YoY, compared to the same period last year.




# له چین سره د افغانستان د ځمکنۍ اړیکي حقیقت




د ډیپلوماټ – THE DEPLIMAT په نوم یوې جاپانۍ رسنۍ د آرش خان تحلیل خپور کړی دئ، کوم چې د افغانستان او چین تر منځ ئې د واخان دهلېز ارزښت او سوداګریز اړخ واضح کوي. د لیکنې په سریزه کې لومړی دا ټکی واضح سوی دئ، چې وایي د واخان دهلېز له لاري چین ته مستقیمه سوداګري او ټرانزیټ د افغان حکومتونو له پاره یو اوږد خوب دئ، خو وایي لوجیسټیک/ لوژیسټیک ئې یو لوی خنډ دئ. په دې تحلیلي لیکنه د واخان دهلېز او سیمه د بریتانیې تر راج لاندي هند نیمي لویې وچې او روسیې تر منځ د جلاوالي په توګه د یوې نرۍ ټړانګي په توګه معرفي سوې ده. تر دې وروسته د واخان دهلېز جغرافیایي جوړښت په دې ټکو سره تشریح کوي: «د (۳۵۰) کیلومیټره اوږد او (۱٦ – ٦٤) کیلومیټره پراخ واخان دهلېز په خپله تنه سره چترال او تاجیکستان سره جلا کوي او د چین له پراخ سینکیانګ ولایت سره په (۹۲) کیلومیټره لنډه پوله پای ته رسیږي.» وایي د ځمکې دغه کوچنۍ پټه/ ټړانګه شاوخوا (۱۰,۰۰۰) نفوس لري او زښته زیات سټرېټیجیک ارزښت لري. ورپسې زیاتوي، چې د مس عینک کان له پانګوني وروسته چین په (مې/ ۲۰۲۱)ز کې له افغانستان سره په واخان کې د یوه سړک په جوړولو کې مرسته پیل کړه، چې لګښت ئې شاوخوا (۵,۰۷) میلیونه امریکایي ډالره اټکل سوی وو. لیکوال زیاتوي، چې دا پروژه (اګسټ/ ۲۰۲۱)ز کې پیل سوه، چې اسلامي امارت ور ته ژمن دئ او دوام ئې ور کړ. آرش خان اټکل کوي، چې وایي دا ځرګنده نه ده چې ایا د چین حکومت د دې پروژې تمویل ته دوام ورکړی او یا کوم اوږد سړک جوړ سوی دئ، خو وایي په (سیپټمبر/ ۲۰۲۳)ز کې په چین کې د اسلامي امارت سفیر د واخان دهلېز له لاري د ټرافیکو د پیل په اړه له چینایي چارواکو سره بحث وکړ. متن خبره تر دې را رسوي، چې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي متقي صاحب هم په (اکتوبر/ ۲۰۲۳)ز کې د چین د بهرنیو چارو له وزیر وانګ یي - Wang Yi سره د نړیوالي همکارۍ د درېیمي غونډې په څنډه کې له چین سره د واخان له لاري د سوداګریز دهلېز د پرانیستلو خبره وکړه. د بدخشان والي هم وایي په جنوري کې اعلان وکړ، چې له چین سره د هیواد تر پولي پوري د سړک د جوړولو کار بشپړ سوی دئ. تحلیل لیکي، چې سړک لا د سوداګرۍ له پاره مناسب نه دئ؛ ځکه چې د واخان دهلېز په پیل کې د بدخشان له مرکز فیض آباد څخه –له تاجکستان سره د افغانستان پولي اشکاشم ته د (۱۵۰) کیلومیټره واټن په غځولو کې لا هم څلور ساعته وخت نیسي.




د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.